



# ښاغلی صدیق کاوون توفاني

ښاغلی صدیق کاوون توفاني زموږ دهیوادپه ادبي، فرهنګي اوسیاسي ډګر کې یوپیاوړې، وتلې او پیژندل شوې شاعر، ادبي، فرهنګي او سیاسي شخصیت دی . دی دپښتو او دري ژبو دهغونوښتګرو،مخکښواونامتو لیکوالانو او شاعرانو څخه دی، چې دده په آثارو او شعرونو کې ډیر لوړ علمي مفاهیم،انساني ،اجتماعي ، ملي او ادبي تصورات اوافکار په ډیره خوږه ،سلیسه، ساده او روانه ژبه بیان شوي دي.د ده په شعرونو کې هنري ښکلا،خیالونه،سمبولونه، تصویرونه او انځورونه ،تشبیهات ، کنایات، پاک او سپیڅلي احساسات، جذبات او عواطف په ډیر رنګین اوظریفانه شکل ترسیم شوي دي .



## د ښاغلي صديق کاوون توفاني
## خوندور او په زړه پورې شعرونه

# تنده



ساقي ډکه پياله راکړه، زولنو ته مې زړه کيږي
ياغي شوو هوسونو ليونو ته مې زړه کيږي
د خندا فرصت مې نشته، عقله مه راته تم کيږه
يو څو غټو اوښکو پښتنو ته مې زړه کيږي
په سړو سړو خبرو ماته نه شوه زما تنده
په سکروټو مې خړوب کړه، سرو لمبو ته مې زړه کيږي
مرور اميد مې ګرځي، د زخمي ذهن کوڅو کې
د مغرورې مينې ياده، ستا راتلو ته مې زړه کيږي
د آشنا د نظر اوره ! راشه يو ځل مې ايرې کړه
وچ لرګی د شنه ځنګله يم، سوزيدو ته مې زړه کيږي
وارنا – بلغاريا (۱۱/۸/۱۳۶۳)

شاعر: صديق کاوون توفاني
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## غوټۍ

د سترګو له ډنډونو نه مې وينې تويومه
د يار په قدمونو باندې شمې بلومه
نن بيا ذهن ته راغله، مروره خاطره مې
د اوښکو د الماسو په چينه يې لمبومه
ساقي راته د ګلو په ښيښه کې باده راکړه
ويل يې چې ګناه دې، په شرابو پاکومه
په سترې پسرلي کې چې د يار د زلفو زيب شي
چمن په چمن ګرځمه، ګلونه لټومه
د سره تکل آرزو مې په سرو وينو کې موسکۍ شوه
ويل يې دا غوټۍ به، پسرلي ته رسومه
کابل (۲۰/۷/۱۳۲۲)



شاعر: صديق کاوون توفاني
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## دزړه غاټول

نن دې جانانه د خوږو کتلو تاب نه لرم
د مستو سترګو اِشارو ته دې ځواب نه لرم
ما دې د سترګو په "ياسين" باندې ايمان راوړی
څوک راته وايي چې کافر يمه کتاب نه لرم
ما د خوږې ګناه موجونو ته ځان وغورځاوه
نور له ګدا آسمانه تمه د ثواب نه لرم
ستا د تودې غېږې حرم ته مې پناه راوړې
تمامه شپه در سره پايمه شتاب نه لرم
يوازې تا ته مې مغروره ککرۍ ټيټيږي
ستا له خوږې مينې نه پرته انتخاب نه لرم
د زړه غاټول مې درته راوړ، ياره ويې منه
دوچو شاړو لاروی يمه، ګلاب نه لرم
ما د څپو په وَزَرونو کې وطن کړی دی
ځلې نه نه ډاريږم، ويره له سېلاب نه لرم



شاعر: صديق کاوون توفاني
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# سور اختر

ښکلېه ساقي راشه چې جامونه سره پورته کړو
ورځې د اختر دي چې غمونه سره پورته کړو

راشه چې نظر مې ستا د سترګو سین کې ووینځم
راشه چې د عمر آرمانونه سره پورته کړو

راشه چې دا سرې جامې په میو کې رنګینی کړو
راشه د کنډول پر ځای خمونه سره پورته کړو

راشه چې دخم په زړه کې وینې په مستیو دي
بیا په میکده کې خمارونه سره پورته کړو

مینه هوسیږي قرباني د مینانو ته
ډلې د مستانو کې سرونه سره پورته کړو

یه ساقي راځه چې په سکروټو تنده ماته کړو
زړونه پرې خړوب کړو ، سره اورونه سره پورته کړو

سور اختر ځلیږي، د ګلونو هره پاڼه کې
وروه شبنمه ! چې ګلونه سره پورته کړو

کابل (۱۳/۲/۱۳۶۳)

شاعر : صدیق کاوون توفاني
ترتیب کوونکی : عبدالقادر مسعود



# د مینې آرماني

زه د مینې آرماني یم، وصلتونه راته راکه
د تودې غیږې حرم کې، شنه خوبونه راته راکه
ما د زهد په زندان کې، د ځوانئ عمر ایرې کړ
دا تقوا راځنې واخله، ګناهونه راته راکه
ستا دمست ښایست له زوره، د حیا غرونه چپه شول
دا شرقي حجب ایرې که، هوسونه راته راکه
یخ وهلی تن مې تود که، د سرو شونډو په سکروټو
ټول غمونه مې لوګی که، سره اورونه راته راکه
بت شکن غرور مې ګوره، ستا ښایست ته په سجده شو
عبادت ته مې لږ ځیر شه، ثوابونه راته راکه
پرې چې وویمځم نظر مې، ستا دسترګو سمندر کې
خړو خاورو نه مې جګ که منزلونه راته راکه
یه حسینه ساقي راشه، چې جامونه سره جګ کړو
له توبو مې توبه وکړه، نور هوډونه راته راکه
په جامونو نه ماتیږي، دا زما دوزخي تنده
زه د ټول عمر خمار یم، دریابونه راته راکه

چا ته ونیسم په لاس کې، د زخمي زړه د آرمان ګل
یه د سوي باغ ملیاره، بهارونه راته راکه
دا کوچنی زړګی مې ګوره، چې د لویو غمو کور شو
عشقه ته راسره یار شه طاقتونه راته راکه
مسکو (۲۳/دلو/۱۳۶۲)
شاعر : صدیق کاوون توفاني
ترتیب کوونکی : عبدالقادرمسعود
*************************

# هېر

کلونه وشول چې دې نه وینمه
غزل د سترګو دې لوستلای نه شم
نور مې دا سترې سرګردانه نظر
- دا داغزنو اوږدو لارود سفرلاروی -
ستا د خوږو سترګو چینو کې لمبولای نه شم .
****
نور مې دسترګو د ګودر په غاړه

ستا د پښو پلونه هم نه ښکاري

نور مې دشونډو د بېديا په څنډو

-په دې شگلنو بې بهاره تالو -

ستا د بوسې گلونه هم نه ښکاري

****

نور دې د خيال په اسمان نه ځلېږم

نور مې د خوب کلي ته هم نه راځې

داسې ښکارېږي چې هېر کړې دې يم

دگلورينو خاطرو له باغه ،

د وچ لرگي په شانې لېرې غورزولای دې يم .

****

زما او ستا هغه اورينه مينه

چې ځلېدله، بلېدله مدام

هغه د تورو ماښامونوډيوه

– لکه د شپو په زړه کې بله شمه -

چې سوزيدله، خنديدله مدام

اوس په کې اور نه شته، سپرغۍ نه لري

اوس له رڼا ډکه څولۍ نه لري .

****

خو لا تر اوسه مې د زړه په قاب کې

یوازې ستا د مخ تصویر پاتې دی

یوازې ته مې یې د ذهن په ډولۍ کې ناسته .

یوازې ته مې لکه وینه په رګو کې جاري .

(المان (نومبر- ۲۰۰۰

شاعر : صدیق کاوون توفاني

ترتیب کوونکی : عبدالقادرمسعود

**************************

# دمینې تړون

بیا مې جانانه، د زخمي زړګي په سوې للمه

ستا د خوږو، خوږو یادونو باران وورېده

بیا مې د مړاوو خاطرو په رژېدلي چمن

د پسرلي د سرو ګلونو باران وورېده .

****

کلونه وشول چې له تا نه جلا شوی یمه
کلونه وشول چې په تا مې سترګې نه خوږېږي
کلونه وشول چې دنیا لکه زندان ده راته
کلونه وشول چې د سا وزر مې نه غوړېږي .

****

اوس مې یادېږي هغه تللې تېرې شپېې
هغه د ګلو غوندې ښکلي او رنګین وختونه
هغه دمینې د رڼا په میوو مستې ورځې
هغه ساده، هغه سپېڅلي نازنین وختونه .

****

چې مې له تا سره تړون پکې د مینې وکه
چې ستا په غېږه کې مې ځان او جهان وپېژانده
ته مې کعبه شوې درته زه په لمانځه ودریدم
ستا په لمنه کې مې هوډ او ایمان وپېژانده .

****

ما ویل زه به دې جانانه جنتي ښایست ته
د سرو غوټیوغوندې ښکلی سور غزل ولیکم

ما ویل زه به دې د تورتیکري په تورو څنډو
د لمر په اوښکو حماسه د سره تکل ولیکم .

****

ما ویل زه به ستا د زلفو په حسینو شپو کې
د ابدي مینې ځلانده ستوري وځلوم
ماویل زه به ستا دمخ هغه سپېڅلی سهار
د پسرلي د شنې وږمې په عطرو ولمبوم .

****

ماویل زه به د تیارو اوږده، اوږده لاسونه
ستا په زرینو، پرتمینو زلفو وتړمه
ما ویل زه به د بدرنګې شپې ناولی کجیر
د سپینې ورځې د رڼا په غشو وولمه .

****

خو د تیارو د خدای، بدرنګه اراده بله وه
ستا برخه لیک یې د بادونوپه وزر وتاړه
ستا په تندي یې آیتونه د لمبو و لیکل
ستا په تیکري یې د سرو وینو سمندر وتاړه .

****

ما مرغلرې ستا له سترګو نه راتوئلې نه کړې
ما دې په زلفو د آرمان ګلونه، و نه ټومبل
د ماتمونو تورو شپو ته دې څراغ نه شومه
د زړه داغلي پرهارونه مې دې ونه ګنډل .

****

چې ستا د زړه په ښار لښکرې دماتم وختې
ما يې يوازې په سرو سترګو تماشا کوله
ستا په دردونو او په خپلې بې وسۍ مې ژړل
ته سوزيدې ما درته هيله د بقا کوله .

****

خدايزده چې په زوريدلي زړه به څه تېرېږي
ښايي چې تاته به بې هوډه، بې وفا ښکارمه
ته به مې وړ دخپلې مينې د پرتم نه ګڼې
تاته به مات ښکارمه تاته به رسوا ښکارمه .

****

مات خو به يمه، خو جانانه بې وفا نه يمه

د تومتونو زنځیرونه په پښو ګرځوم

له تا نه لیرې، په پردیو نا آشنا کوڅو کې

د مجبورۍ د ژوندون پېټی په اوږو ګرځوم .

****

خوستا د سترګو په زیارت باندې قسم کومه

یوه شېبه دې هم له یاده جلا شوی نه یم

د شنه باور په کرونده مې لا هوډونه شنه دي

د سرو غاټولوپه ټړون باندې ختلی نه یم .

****

دیاد په دښته کې مې څرې ستا د مینې هوسۍ

د خوب باغچه مې ستا دحسن په ګلونو پټه

د ذهن دړه مې یوازې ستا نامه پوښلې

د زړه ماڼۍ مې ستا په ښکلو تصویرونوپټه .

****

(آلمان (جنوري - ۲۰۰۱

شاعر : صدیق کاوون توفاني

ترتیب کوونکی : عبدالقادر مسعود

*************************

راشه پسرلیه

راشه پسرلیه ، دغوټیو له باران سره
سپېل د رنګ او بوی سره دمشکو له کاروان سره
راشه دغوټۍ له سترګو پریمینځه رانجه دخوب
راشه د زخمي زخمي غاټولو له درمان سره
راشه چې جړاو شي په غمیو، نښتېځلی، باغ
راشه پسرلیه، دګلونو له توفان سره
راشه چې دونو په ښاخونو پاڼې وناځي
باد ترانې ووايې، دغرو ممانې وناځي .

****

ژمی دی خفه نه شې دګلودغونچو په ځای
مونږ درته په لاره زخمي زړونه غوړولي دي
خیر که وچکالي ده نه شبنم شته نه باران اوري
ستا دراتلو لارې مو په اوښکو ، پریمینځلي دي
اور مو په سر وړی، خو ډیوې مو لګولي دي
زړه د تروږمیو کې مو ستوري ځلولي دي

زموږ کلي ته لمر راوله! راشه پسرليه
بيرته يې پخلا که، د عمرو مرور راوله .

****

راشه چې باغونه مو ساړه ژمي وهلي دي
راشه چې ګلونه دخزان سيلۍ زپلي دي
راشه چې دبوټو په رګونو کې سا وچه ده
راشه چې غوټيو په سروونو کې لمبلي دي
دښتې سوزيدلي، چمنونه رژيدلي دي
کرښې دقسمت يې په لمبو راته ليکلي دي
بس دی د اورونو ، دسوځونو کتاب واړوه
بس دی پسرليه، دغمونو کتاب واړوه .

****

څه دی بهار څه دی، چې رڼا دمستۍ نه لري
سا دمستۍ نه لري ، صهبا دمستۍ نه لري
شور دمينې نه لري، سور اور دمينې نه لري
څا ځکو دشبنمو کې ځلا دمستۍ نه لري
څه دی بهار څه دی چې موسکا دغوټۍ وربېي

څه دی بهار څه دی چې خندا دمسنۍ نه لري
څه دی بهار څه دی چې ویدې نغمې نه پاڅوي
تاندې غوټۍ ویښې نه کړي، شنې ورمې نه پاڅوي .
****
راشه پسرلیه، چې دلمر ګلونه وخاندي
توره شپه سبا شي، دسحر ګلونه وخاندي
باغ په خندا سر شي، لر او بر ګلونه وخاندي
راغ غونچې ،غونچې شي پیغامبر ګلونه وخاندي
بیا دپیغلو نجونو په ټټر ګلونه وخاندي
غر په ګلو پټ شي په کمر ګلونه وخاندي
بل شي په سپېرو دښتو، دګلو څراغونه بیا
پورته شي ،رپانده دغاټولو بیرغونه بیا.
****
راشه په سپېرو دښتو کې سا د ژوندون وکره
راشه په سړو زړونو کې اور د جنون وکره
راشه بیا روښانه که دمینې دمزلونو لار
راشه د لیلي زړه کې وفا دمجنون وکره

راشه تږې تالې دوړمې په میو مستې که
راشه د مابښام په دښته، سپین سباوون وکړه
راشه پسرلیه، باغ ته ناوې دګل راوله
ساندې ترانې که ، وزرماتی بلبل راوله .

****

ترکې دبګرام درنه جامونه دسوما غواړي
غواړي ،نڅا شورغواړي،شررغواړي، نغمې غواړي
پیغلې دبخدي درنه دردونوته دوا غواړي
بیا په نو بهار کې دبهار مسته خندا غواړي
پریږده له قفسه، ښایسته بلبلې والوزي
دا زخمي غوټۍ له تا نه شونډې دموسکا غواړي
زیب یې د پیکیو شه، ګلاب دګریوانه یې شه
سوز یې د سندرو شه، رباب د زنګانه یې شه .

****

بیا به دا خزان، خزان وختونه بهارونه شي
بیا به دا شډل ، شډل ډاګونه چمنونه شي
بیا به دا اغزي، اغزي باغونه سره ګلونه شي

بیا به په رنګینو ګلو، ښکلي وربلونه شي

بیا به غم وهلي ماښامونه، سهارونه شي

بیا به دسپین غره غاړې ته ستوري امېلونه شي

بیا به دکابل لمنه ډکه په ګلونه شي

بیا به د (بابا) پګړۍ جړاوه په لعلونو شي.

****

تا که پسرلیه ، دګلونو ګیډۍ راوړلې

تا که د ورږمې په وزر تاندې غوټۍ راوړلې

تا که درنا ناوې له تورو شپو راوایسته

تا که دباران د رڼو څاڅکو ډولۍ راوړلې

تا که په خاموشو ماښامونو کې شور وکړه

تا که زخمي زړونو ته د مینې پټۍ راوړلې

ته به ابدي شې ، ته به پاتې شې په زړونو کې

ته به د ژوند سا شې ، په ډاګونو ، په باغونو کې .

آلمان ، ۲ /۱۹۹۹/ ۲۰

شاعر:صدیق کاوون طوفاني

ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود